مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۵/۰۹/۲۰

# د ولس زور، د خدای زور دی !

یو سور خلقي مي د پوهنتون د زماني اشنا دی چي اوس هم نور محمد تره کی، خلاق رهبر او د شرق نابغه ګڼي. هر هغه کس ته د اشرار او مرتجع په سترګه ګوري، څوک چي خلقي نظام په کچه کاڼي تلي. لاکن اشنا مي په وطن مين او په انډيوالی کي ښېخي نامي کس دی. کله چي د کرونا شيشکه په ځنګدن شوه نو په ډېري بيړې عمرې ته لاړ؛ چي بېرته راستنېده نو داسي بونډۍ شانتي ږيره يې هم پريښي وه. څه وخت وړاندې يې راته وويل: « ياره؛ په دې ورځو کې زموږ جومات ته د تبليغيانو ګشتونه زيات شوي او هرځل چي راشي د سه روزۍ بلنه راکوي، نه پوهېږم چي څه وکړم؟». ما مفته مشوره ورکړه چي هسې هم زوړ ګنهکار يې؛ د يوې په ځای دوو سه روزو ته ورسره لاړ شه خو پام چي چهله درباندې ونه لګوي بيا به د ملګري په ځای هرچا ته امير صېب صېب کوې!

تېره اونی يې راته ټليفون وکړ؛ له عليک سليک وروسته ړومبنی خبره يې دا وه چي: «په نيپال کي دې د ولس زور وليد چي تش پاڼو ځوانانو څېل نظام څنګه بوس بوس کړ؟». مال بلکل مي وليد، ولی دغه د سرو وينو کلچر خو ستا د مارکسستو يارانو ميراث دی. لږ غلی غونډې شو، بيا يې وويل: « په بنګله دېش کي د حضرت شيخ مجيب الرحمن صېب د لور، حسينه واجدې منډې خو به دې ضرور کتلي وي، هغه هم د ولس زور وو» مال ولی نه؟ د خدای په زور او د ولس په شور کي يوه وربشه شک نه لرم. مخکي له دې چي مخه ښه را سره وکړي، په کنايه کنايه کي داسي ګويانه شو: «ګوره، که د ولس په زور دې اوس هم سر نه خلاصېږي نو درې کاله وړاندې په سريلانکا کي د څلورو ورونو د حکومت انجام ولوله چي د تاميل د پړانګانو په شان څنګه ځپ ځپ شو؟»

يقينا، د وطنوالو د غوڅ اکثريت انګېرنه همدا ده چي په افغانستان کي کين اړخو ګوندونو له څېل ولس سره ډېر تاوجن، قهرجن او کرکجن چلند وکړ. د دغو ګوندونو يو مشر هم ترننه پخپلو غلطيو اعتراف ونکړ او نه يې له څېل کسکر کسکر ملت څخه بښنه وغوښتله. زه دلته د تره کي په هکله هېڅ ډول تبصره نه کوم، ځکه نوموړی اوس د الله تعالی او تاريخ په محکمي کي دی. البته يوه خبره يې زما ډېره خوښېدله چي د شمشاد د غر په تول وزن لري؛ تل به يې ويل: « د ولس زور، د خدای زور دی». دا کليواله اصطلاح يوه ژوره ټولنيزه، سياسي او کلتوري معنا لري چي د ولسواکی، مشروعيت او ملي مشارکت په اړه مفاهيم په کي رانغښتي دي.

د بشري ټولنو په تاريخ کي د قدرت سرچينه تل د بحث وړ موضوع پاتي شوې او په ډاګه کوي چي د خلکو په خوښه راغلي نظامونه نه يوازې مشروع دي، بلکي الهي ملاتړ هم له ځانه سره لري. د اسلامي تفکر له نظره، واک بايد د عدل، کفايت او اهليت په دائري کی له ولس سره په مشورې رامنځ ته شي. قرآنکريم فرمايي: "وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ" يعني د مسلمانانو کارونه د مشورې پربنسټ وي. د همدې قرآني اصل له مخې د خلکو ارادې، Democracy او ولسواکی ته زموږ په ديني متونو کي د اِجماع، جمهور او اکثريت مصطلحات کارول شويدي.

په افغاني ادبياتو کي، دا ډول جملي « د ولس زور، د خدای زور دی» د خلکو د بيداری او حق غوښتني شعور څرګندوي. په جنوبي افريقا کي تور پوستانو کلونه کلونه د توکميز تبعيض / آپارتايد پر ضد مبارزه وکړه؛ په پای کي د نلسن منډيلا په مشری ولس د يوې چتری لاندې ودريد او بريا يې ترلاسه کړه. په هندوستان کي چا له مهاتما ګاندهي څخه پوښتنه وکړه چي ته خو ډېر ستر انسان يې، ولی غوا او بُت ته سر ښکته کوې؟ هغه ځواب ورکړ: «هو زه پوهېږم چي حېوان او ډبره هيڅ نه شي کولای، خو زه د څېل ولس ارادې ته ټيټېږم».

يوځل په مکي کي د طواف په مهال، حضرت عائشي له رسول عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي آيا حَطِيم د کعبې برخه ده؟ پيغمبر صيب ورته ځواب ورکړ «هو؛ مګر د پيسو د نشتوالي له امله نيم پاتي شو». هغې بيا پوښتنه وکړه؛ که همداسي ده نو ولي يې د کعبې له خوني سره نه يوځای کوې؟ رسول (ص) ورته وويل: «عائشي ستا قوم، يعني د مکي خلک لا د جاهليت سره نژدې دي او زه انديښنه لرم چي په زړونو کي منکر نه شي. کنه نو ما به دا ديوال د کعبې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په غور و لولئ

سره يوځای کړی وو او د کعبې دا دنګه دروازه به مې زمکې ته راټيټه کړې وه». يعنې د اسلام رښتينې رسول، د خپل امت د احساساتو درناوې کوي او ټولنيز نزاکتونه له پامه نه غورځوي.
که په رياضي کې دوه جمع دوه څلور کيږي، نو د AI په دې سرساموونکي پېر کې د سيالو ملتونو سټېج ته د ختلو لومړنۍ پوړۍ، د خپل ولس ملاتړ او د مشروعيت درلودل دي. د رعيت د روا غوښتنو مخه ډب کول او د خپلې سليقې تپل، ښايي د سمندر د سونامي په څېر خطرناکې پايلې ولري. الله مې دې زاړه ايمان ته خبر کړي.

-----------------------------------—

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولاې شي د ملکزي نورې ليکنې او څېړنې د هغه په فيسبوک او د يوټيوب په چينل کې ولولي او وګوري؛ ادرس يې دا دی: Wali Malakzay



[د ليکوال نورې ليکنې په دی لينک کې ولولې](#)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ